فقیر

۱۸ سپتمبر ۲۰۲۳

# د افغانستان د ملی شتمنی لوټ او تالان

## (چکه چور یعنی څه؟)

مُلا هغه مال غنیمت بولي چي د بل دین پرخلکو یا بیدینو باندې تر یرغل وروسته په لاس ورځي. دغي شتمني ته دوی غنیمت او دهغوی ښځو ته کنیزاني وايي او ځان ته یې حق حلال ګڼي. په عوامو کي (چکه چور) دې ته وايي چي غل په پریمانه مال وربرابر شي او بابیزه یې له هراړخ راپېټوي، دې پسې نه ګرځي که مات شو، توی شو، ضایع شو یا ورځخه نیم په لاره کي ولوېد، مقصد څومره یې چي وس وشو، را غلا یې کړي. چکه چور د چور او غلا بدترین شکل دی، ځکه چي د مال او شتمنی ډیره برخه د چور پرمهال ضایع کیږي.

د یو هیوادطبیعی منابع( اوبه، زمکه، ځنګل، کانونه، وحشی ژوی، ځړځای، باد، دلمر وړانګي اونور) چي د مربوطه هیواد د جغرافیي په حدودو کي د زمکي پر سر، هوا او تر زمکي لاندی دي، د ټول ملت شتمني بلل کیږی. د دغو منابعو ساتنه او له هغو څخه د ملی شتمنی(بیت المال) په توګه معقوله او اقتصادي استفاده له پخوا څخه د دولتونو اصلی دندو کي شمیرل کیده او اوس یي لا اهمیت زیات شوی دی. له ځګړو څخه مخکي، افغانستان په ډیر محتاطانه ډول د خپلو طبیعی منابعو تفحص، تجسس او مطالعه کول پیل او قدم په قدم یی پر مخ وړل. ځینی یي د کره پلانونه له مخی تر کار لاندي ونیول شول، نور یي محفوظ او مصون وو. له نن څخه پنځوس – شپیته کاله مخکي ډیر عادي کانونه لکه د تعمیراتی تیږو کان، مالګه او دسرخاوره هم د قرار داد له مخي خصوصی سکتور ته ورکول کیده، خو مهم کانونه لکه سمنټ، ګاز او ځنګلونه ټول د دولت تر څارني لاندې و، سمنټ د هیواد دننه استخراج او مصرف کیدل. د ګاز یوه برخه د هیواد دننه مصرف او د کیمیاوی سرې او نورو ورسره تړلیو مصنوعاتو له تولید وروسته نوره برخه د ځرګند قیمت او قرارداد له مخي بهر صادریدل، متاسفانه د معادنو اوسنی قرادادونه او د سکرو خرڅلاو اقتصادی او معقوله بڼه نه لري.

دا په داسي حال کي چي ورځ په ورځ د منابعو قلت محسوسیږي. ځینی زیات مصرفه صنعتی عناصر ډیر کمیابه شوی، د ځینو نور کانونه د زمکي پرمخ محدودو ځایونو کي پاتي دي او ځینی نور د تعویض او تجدید وړ ندي. هغه هیوادونه چي خپل کاني توکي د شفافو او سنجول شویو قراردادونو له مخی بهرته لیږی، کال په کال دغه قراردادونه نوي کوي. یو شمیر نورو د کانونو او خامو توکیو صادرول بند او اوس یی خپله پروسس کوی. زیاترو افریقایی او آسیایی فقیرو هیوادو دخپلو کانونو او نورو منابعو له استخراج څخه د بهرنیانو لاسونه لنډ کړل.

له بده مرغه په افغانستان کي له تیرو څلویښتو کلونو را دېخوا چې مرکزی حکومتونو د جنګی ډلو د ناامنی له امله دهیواد پر ټوله جغرافیه واک له لاسه ورکړ، ورسره یو ځای د ګاونډیو هیوادو په لمسون او هڅوونه د قاچاق او لوټ مافیا فعاله شوه. لومړی د ځنګلونو چپاول او بیا د قیمتی الوتونکو قاچاق او ورپسې د تاریخی آثارو او حتا د کانونوقاچاق شروع او تر اوسه دوام لري. دا ټول د یو هیواد تر ټولو باارزښته شتمني ده چې د مدبرانه او معقول مدیریت پر ځای، لړاو- چړاو کیږي او چکه چور یې روان دی.

طبیعی منابع ټول هغه څه دی چی د انسان په لاس نه دي تولید شوي، خو فوق العاده اقتصادی او حیاتی ارزښت لري. د هغو مدیریت کول د دولت دنده او عاید یې عامه دارایي ده.

اوسني وخت کي هر هیواد کوښښ کوي چې خپل خام توکي خپله پروسس کړي، خو کومه برخه چې نورو هیوادو ته صادروي، په نړیوال قیمت او د نړیوال بانک او UNCTAD د معیارونو او سنجشونو سره سم یې د رسمی قرارداد له مخې صادروي. له بده مرغه افغانستان کې دا دی د طبیعی منابعو لوټ له پټ او مافیایی – قاچاقی شکل څخه څرګند او د رسمی طفیلی مافیا لاس ته ولوید. هره ورځ خبریږو چې د هیواد ډیر قیمتی کانونه په مافیا ډلو او بهرنیانو باندې پلورل کیږي.

طبیعی منابع کوم میراث ندی چې موجود نسل یې خپلې خوښې سره سم لړاو- چړاو کړي، بلکې دا هغه امانت ده چې ټول راتلونکي نسلونه هم پکې حق لري او د سرمایې په توګه باید په پوره کمیت او کیفیت دوی ته وسپارل شي. د طبیعی منابعو ( خصوصاً ځنګل اومعدن) بې سنجشه استفاده ناوړه ایکولوژیکی او چاپیریالي اثرات هم لري. د دغو منابعو لوټ او نیمه بیه باندې پلورل د مقداري او محسوسو ارزښتونو ترڅنګ، غیر محسوس او غیر مقداري ارزښونه هم بايلي.

له بده مرغه د افغانستان خلک دخپلو دغو شتمنیو له تریلیون ډالری ارزښتونو بی خبره او د استخراج او قرارداد له پروسې او چاپیریالی عواقبو بی خبره او غافل دی. د دوی دغه عامه شتمني د څو تنو طفیلی بیسوادو په لاس کې لویدلې چې لکه د یو (غنیمت) په شان یې حیف او میل کوي. بهرنی حریصو ملکونو ته هم ښه موقع په لاس ورغلی اود خپلو استخباراتی کړیو پټ او ښکاره فعالیت ته یې زور ورکړی دی.

اوسنی نسل به په هیڅ صورت د دې تالان، غبن او خیانت ځواب راتلونکو نسلونو ته ونشی ویلای. په تیره بیا یو شمیر ډیر قیمتی کانونه لکه لاجورد، لیتیم، ګاز، مس، تِلک او نور ستراتیژیک منابع او عناصر دی.

د حکومت دنده د ولسونو خوشحاله ساتل او رضایت حاصلول، د دوی د فردی ازادی ، تعلیم، ذهنی او جسمی ودی تامین، عامه خدمات ترسه کول، د ملی شتمنیو پیاوړی کول، د طبیعی منابعو مدیریت اوانکشاف او د راتلونکو نسلونو لپاره اطمینان دی.

له بیت المال سره خیانت، رشوت، اختلاس، غصب، دپیسو مینځل، قاچاق او نورې نارواوې تېررژیم کې هم وې. دا دجنګ بدترین اثرات وو. اوس چې جنګ ظاهراً پای موندلی، نو د خلکو د ډاډ په خاطر باید وضعیت ثبات ومومی او د ملت شتمني د امانت په توګه محفوظه او خلکو ته د سر او مال ډاډ ورکړل شي، خو متاسفانه موجوده طفیلی حاکمه ډله او د استخباراتو په مټ دهیواد په شتمنیومسلطه شوې مافیا له دې مسئولیت غافله او د دغو شتمنیو په وړاندې بی تفاوته ده. که زموږ ملت او موجود نسل ځان ونه خوځوي او عکس العمل ونه ښیي، د تاریخ او راتلونکو نسلونو په وړاندی به ځواب ونه لري.